نثار احمد صمد واصفی ۲۰۱٦/۰٦/۱۹

دوه دیرش کاله سیاسی بند

بسم الله الرحمن الرحیم ـ درنو لوستونکو ، تاریخ سابقه د آینده سره تړي . نو لوستنه يې ډيره ضروري ده.



هو ، موږ پوهيږو چې دلته پاچا خان او هلته نيلسن مانديلا هر يوه اوويشت اوويشت کاله جيل کاټ کړی دی چې دا ستره قرباني ده. خو زه چې کوم اتل او مبارز درمعرفي کوم هغه د خپل خواږه ژوند پوره ۳۲ کلونه (یا ۱۱۶۸۰ ورځی) د جيل په تورتم کی تیری کړي دي تر څو نورو ته رونا وبخښی . دغه ملی مبارز د خپل ژوند زياته برخه د ملت د سوکالی، خوشحالی او هوسايۍ له پاره قربان کړې ده.

هو، دا ملی قهرمان کاکا سيد احمد لودين دی چې تاسو ته يې درپيژنم!

کاکا سيد احمد خان لودين د فيض محمد خان لودين ملا نصوح (د سردار کهندل خان وزير) زوی و. د ده مشران د کندهار د مشهوري تجارتی او سياسی کورنی څخه دي. دئ د ۱۲۹۰ په حدودو کی د کندهار په بړ بازار کی زوکړيدلی دی.

د دوی کورنۍ په کندهار کی په ثروت او تجارت کی شهرت درلود. د کندهار د لوديانو کوڅه (بر دراني) د دوی په نوم وه. کاکا خپلی لومړنی زده کړي د هغه مهال د کندهار پر علماوو وکړې. بيا وروسته د کابل په بالاحصار کی د امير شيرعلی خان په لومړني عسکري مکتب کی شامل سو او لږ وخت د سيد جمال الدين افغاني شاګرد هم و. دئ د مکتب په ټولو کلونو کی اول نمره و.

څنګه چې د فراغت څخه وروسته د سِن له مخی تر خپلو ټولو همصنفيانو کشر و، نو د ده لياقت ته په نه پاملرنه يې پر يوه کښته نظامي رتبه مقرر کړ. دئ له دې کاره ناراضه سو، نو هغه و چې دنده يې پرېښووله او کندهار ته ولاړی. په کندهار کی يې د انګريزانو د جنګ صحني پخپله وليدلي . د شيرعلی خان د دورې تر ختمېدو وروسته بيرته کابل ته ولاړی. د امير عبدالرحمن خان د پاچهی په لومړيو کی بندي سو څو چې د هغه د سلطنت په وروستيو کی آزاد سو. بيا د هغه د زوی امير حبيب الله خان د پاچهی په ترڅ کی د حبيبيې د مکتب منتظم سو او همدلته د مشروطه غوښتونکو د غورځنګ يو فعال غړی او د يو ګروپ مشر سو (جنبش مشروطه خواهي در افغانستان ۲۶۶ مخ).

د پوهاند هاشمي د پورته بيان څخه ښکاری چې کاکا د امير عبدالرحمن خان د يوويشت کلن سلطنت ټوله موده په جيل کی تيره کړې ده. وروسته د امير حبيب الله خان په وخت کی يوولس کاله نور پسی بندی سوی دی چې جمعاً دوه دیرش کاله کيږی. استغفرالله، دا څومره عظيمه قرباني ده!

ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کاکا د خپل یوولس کلن بند پر مهال د سواد آموزۍ یو نوی طرز ترتیب او طبیق کړ. په محبس کی یې بندیانو ته د خپلی همدې طریقې له مخی سواد ور زده کاوه او ډېر کسان یې باسواده کړل چی د کاکا طرز وبلل سو. د کاکا دغه طرز وروسته اردو ژبی ته هم د «قاعدۀ نادره» په نوم ترجمه، تطبیق او رواج سو (جنبش مشروطیت در افغانستان ۳۵ مخ).
په هر صورت، د افغانستان د خلکو د مبارزو په تاریخ، خصوصاً د امیر حبیب الله خان په دوره (۱۹۰۱ ـ ۱۹۱۹) کی د چوب فروشی د مدرسې او حبیبیه دارالعلوم د روښانفکرانو او پوهانو له خوا د امیر دربار ته ورانديز وسو چی د افغاني پوهانو يو انجمن رامنځته سی تر څو یوه پنځلس ورځنی جریده د «سراج الاخبار» په نوم په مرکز کی خپره کړی (از جنبش مشروطه تا دولت مشروطه ۱۱۰ مخ).
نو هغه و چی په پنجشنبه د ۱۳۲۳ قمري کال د ذیقعدې پر پنځلسمه (۱۱ جنوری ، ۱۹۰۶ میلادي) د سراج الاخبار انجمن تأسیس سو چی د مولوي عبدالرؤف خان قندهاري په مدیریت د «سراج الاخبار افغانستان» لومړنی شماره خپره سوه. فقط یوه ګڼه یې نشر سوه او همدا د مشروطه نهضت اساس دی (د افغانستان تاریخی پیښلیک ۲۲۱ مخ).
کاکا سید احمد لودین د مشروطه غوښتونکي نهضت د لومړنیو کسانو څخه دی. د دې غورځنګ مؤسس مولوي محمد سرور واصف به د میر سید قاسم او نورو سره د دې نهضت د جوړولو پر ضرورت مجلسونه کول او دا غونډی به اکثراً د شپې روانی وې، څو چی د ۱۹۰۶ کال په ډسمبر کی د میر صاحب (یعنی میر سید قاسم) په سراچه کی د مشروطه غوښتونکي نهضت بنسټ کښېښوول سو. د هغې شپې په دغه تاریخی غونډه کی میر صاحب، مولوي محمد سرور واصف، کاکا سید احمد لودین، تاج محمد خان بلوڅ پغمانی او یو بل نفر و چی نوم یې متأسفانه هیر سوی دی (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد ۳۷ ـ ۳۸ مخونه).
لوی استاد علامه حبیبی وایی چی ما د خپل اکا د زوی او استاد ، شهید مولوي عبدالواسع څخه چی د لومړني مشروطیت د بندیانو څخه و، اوریدلی وو چی د دې جمعیت لومړني کندهاریان یعنی مولوی واصف او د هغه د کورنۍ غړي د کاکا سید احمد خان سره، په شاهي مدرسه (جامع چوب فروشي) کی چی د هغې مدرسې په مدرس مولوي عبدالرؤف خان پوری یې اړه لرل، په یو اطاق کی اوسېدل او د لومړنیو مشروطه غوښتونکو د تحریک طرح یې همالته جوړه کړه (جنبش مشروطیت در افغانستان ۶۰ مخ).
په هر صورت، د مشروطه غوښتونکو تحریک په کابل کی تر ۱۹۰۹ مخکی د یو پټ جمعیت په توګه رامنځته سو چی د «سِر ملی»، جمعیت یا «جان نثاران اسلام» یا «اخوان افغان» په نوم یادېدل چی لس کسیزه ګروپونه وو څو چی ټول مخکښان او فعالین یې په ۱۹۰۹ کی ونیول سول (افغانستان در پنج قرن اخیر ۴۵۴ مخ).
کله چی مشروطه غوښتونکي په ۱۹۰۹ کی د امیر حبیب الله خان د خښم او ځینی ښکار سول نو کاکا سید احمد خان هم بندي سو چی د هغه د پاچهی تر پایه بندي و. هغه داسی چی د دې تحریک دوو تنو غړو (استاد محمد عظیم خان او ملا منهاج الدین جلال آبادي) خیانت وکړ او د ټولو مشروطه غوښتونکو لیست یې په جلال آباد کی امیر حبیب الله خان ته ورکړ هغه هم (د ۱۲۸۵ لمریز کال د حوت په میاشت کی) خپل احکام صادر کړل . اووه کسان یې په اعدام او نور یې په اوږده بند محکوم کړل. هغوی چی اعدام (توپ ته وتړل) سول دا دي: د تحریک مشر مولوي محمد سرور واصف، د هغه ورور سعدالله خان الکوزی، د هغه د پلار د اکا زوی عبدالقیوم خان الکوزی، لعل محمد خان کابلی، محمد عثمان خان پروانی، جوهر شاه خان غوربندی او محمد ایوب خان پوپلزی. هغوی چی بندیان سول ۳۷ کسان وو (از جنبش مشروطه تا دولت مشروطه ۱۵۷ ـ ۱۵۸ ـ ۱۵۹ مخونه؛ افغانستان در مسیر تاریخ ۷۱۷ او ۷۱۸

مخونه) . په دغو کی عبدالرحمن خان د سرور خان واصف ورور [د دغه لیکوال د پلار نیکه] په جېل کی وفات سو (هماغه ۷۱۹ مخ).

دا بندیان پر دوو ډلو ووېشل سول. یوه ډله په زولانه او اوسپنیزه طوق او ځنځیر سره تړلي د سلطنتي ارگ په جېل کی او بله ډله په زولنو کی د شیرپور په جېل کی بندیان سول. دواړی ډلی کوټه قلفي وو. د بند په لومړیو څو کالو کی د دغو بندیانو اطاق د ورځی صرف یو ځل د لسو بجو په شاوخوا کی خلاصېدئ او مصلی، سقاو او نانوای به دننه ورتی. دولت د هغوی فی نفر ته د ورځی دوې وچی یو پاویزه ډوډی ورکولې او هیچا اجازه نه درلوده چی د هغوی سره وگوری لاکن څو کاله وروسته یو څه آساني راغله (افغانستان در مسیر تاریخ ۷۲۰ مخ؛ جنبش مشروطه خواهي در افغانستان ۲۹۸ مخ). هو، کاکا سید احمد خان هم یو د دغو قربانیانو څخه و چی د ارگ په جېل کی یې یوولس کاله دا ظلمونه وزغمل.

اوس به په زندان کی د کاکا سید احمد خان پر یوولس کلن غمجن ژوند او هلته د ده پر فعالیتونو یو څه رڼا واچوو. مولوي محمد حسین هندوستانيً چی د ده سره یو ځای تر آخره بندي و ، داسی لیکی:

«سید احمد خان د یو فوق العاده فکر او ثبات څښتن و. هغه د امیر شیرعلی خان په حربیه مکتب کی تعلیم کړی و. هغه د یوې معززی کورنی څخه و چی په خپل کور کی یې د عربي، فارسی او ریاضی معقول علوم زده کړي وو. د امیر عبدالرحمن خان په وخت کی هم او بیا په «جمعیت جان نثاران اسلام» کی د شمولیت له امله هم زموږ سره بندي سو چی هلته د تعلیم او سواد د یوې نوي طریقې د ایجادولو موقع ورته برابره سوه.

د نورو بندیانو اولادونه چی به د زړه سوي له امله په ارگ کی موږ ته راتلل نو پر هغوی یې دغه طریقه تطبیقوله. د ځینو سپاهیانو اولادونو هم تعلیم ورڅخه حاصلاوه او پخپله به سپاهیان او افسران هم کله کله ورته راتلل. تر دې چی د سپهه سالار محمد نادرخان له خوا په پوځ کی اعلان وسو چی په آینده کی بېسواده افسران ترفیع نسي کولای. یوې ډلی پوځیانو به صرف یوه میاشت پر موږ پیره داري کوله. دلگی مشرانو او ضابطانو به موقع غنیمت گڼله او د دې قاعدې څخه به گټمن کېدل او زده کړه به یې کول، څو چی په یوه میاشت کی به پوره باسواده سول.

ما ته هم دا قاعده ښه ترا معلومه سوه او کله چی به می نوي تعلیمی کتابونه او اخبارونه لوستل او گټور مطالب او مواد به په مخه راتلل نو هغه به می سید احمد خان ته ویل. خو هغه ته به زیاتره دغه مطالب له مخکی څخه لا ورمعلومېدل او لازم مواد به یې تر تجربې وروسته خپل کتاب ته ورشاملول. دغه قاعده ما ته دومره گټوره او عجیبه ثابته سوه چی د ثواب په خاطر می یو زر جلده په پټه په هندوستان کی چاپ کړل او د زده کړي له پاره می رامیدان ته کړل چی په کابل کی نورو خلکو هم خپلو اولادو ته له هغه څخه سواد او تعلیم ورزده کاوه.

سید احمد خان یو ځل په بندیخانه کی داسی ناروغ سو چی ډاکټر د هغه د رغېدو څخه نااميدي وښودله. خو ما ورته وویل چی الله تعالی داسی فرمایی: «امَا ما یَنفعُ الناسَ فیمکثُ فی الارض» (هغه څه چی انسانانو ته گټه رسوی په مځکه کی پاتېدونکی دی) [الرعد ۱۷]. نو تر څو چی ته خپله دغه طریقه په ټول افغانستان کی جاري او طاري نکړې ، ژوندی به یې» (انقلاب افغانستان ۹۴ ـ ۹۵ مخونه).

کاکا یو کتاب د حساب د علم په باره کی تألیف کړ چی عنوان یې (خلاصة الحساب) و لاکن چاپ نسو. د سِواد آموزیَ په حصه کی یې په خپل ابتکار یو داسی طرز ایجاد کړ چی په معارف کی د «کاکا طرز» وبلل سو. دا لومړنی تحول دی چی د سواد د زده کړي په برخه کی رامنځته کېږی. پخوا « قاعدهً بغدادي » وه چی کوچنیان یې ژر نسول باسواده کولای.

هو، کاکا سید احمد خان دومره زړه ور، صریح اللهجه او سپینی خبری کونکی و چی ساری یې نه درلود. هغه وخت د یو څو کسانو څخه پرته نور خلک د دیموکراسی او مشروطیت غوندی کلمو سره بلد او روږد نه وو. همدغه یوې ډلی دردمنو منورینو د همدې مفکورې د پرمخ بېولو په خاطر د مشروطه غوښتنی تحریک راپیل کړ. څنګه چی د دې جمعیت اوځار اشخاص د حبیبیه مکتب معلمان وو او د دې مکتب مدیر ډاکټر عبدالغنی و، نو هر چا به دا ګومان کاوه چی دغه تفکر د ډاکټر غنی د فکر محصول دی. له همدې امله یې په جېل کی د مشروطه نهضت بندیان د ډاکټر غنی د فقرې بندیان بلل او کله چی به یې مشروطه غوښتونکي بندیان د تحقیقاتو له پاره ورغوښتل، نو ږغ به یې کاوه چی د ډاکټر غنی د فقرې بندیان حاضر کړئ!

یوه ورځ د زندان ساتونکي د اطاق دروازه خلاصه کړه او ږغ یې وکړ چی د ډاکټر غنی د فقرې محبوسین دې راووزي. څو کسان چی په هغه اطاق کی وو، ور ووتل . سید احمد خان قندهاری مشهور په کاکا هم په همدې اطاق کی و، د هغه څخه یې وپوښتل چی ستا پېنه خو هم د ډاکټر غنی په فقره کی بنده ده. هغه په داسی حال کی چی ډاکټر غنی پخپله هم په همدې اطاق کی موجود و، په پېنتو سخت ښکنځل وکړل چی زه د ډاکټر غنی ښځه داسی داسی کوم ! زه په خپله پکره (فقره) بندي یم. میر صاحب ویل چی د کاکا خبره صحیح وه. ځکه نوموړې فقره یعنی د مشروطیت ظهور د ډاکټر غنی سره تړاو نه درلود بلکی د دې نهضت ځوانان پوه او لایق اشخاص وو چی د خپلی رایی او ارادې استقلال یې درلود (جنبش مشروطیت در افغانستان ۵۹ ـ ۶۰ مخونه ؛ ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد ۱۰۵ مخ).

د ۱۳۱۹ په حمل (۱۹۳۰ میلادي) کی چی میر صاحب [میر سید قاسم] تر اوو کالو قید وروسته خوشي سو، نو دوستان د ده د لیدو له پاره کور ته راتلل. یوه ورځ لیکوال محمد قدیر خان تره کی، چی څه موده د مطبوعاتو رئیس و، د میر صاحب لیدلو ته راغی. د مصاحبې په جریان کی یې ترې وپوښتل چی آیا د کاکا سید احمد خان او د محبس د هغه بندیوان تر منځ واقعاً هم هماغه سوال او ځواب سوی و په داسی حال کی چی ډاکټر غنی حاضر هم و؟ میر صاحب تایید کړه چی هو هغه پوښتنه او هغه ځواب په هماغه ترتیب رښتیا دی، ځکه هغو اشخاصو چی د مشروطیت په ظهور کی ګډون درلود ټوله یوازی د خپل ځان په اراده او درایت سره په دغه نهضت کی شامل سوي وو (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد ۱۰۵ مخ).

په ۱۹۱۹ کی د امان الله خان په واکمنېدو سره ټول سیاسی بندیان آزاد سول چی کاکا سید احمد خان هم پکښی شامل و. کاکا د امان الله خان د پاچهی پر مهال پر عین وخت دوې وظیفې لرلې (د ابتدایه ښوونځیو آمریت او د شاهي غنډ تدریس). له دې نه علاوه، د سواد ښوونی خپل طرز یې هم مخته بیوئ چی د کندهاري کاکا په طرز سره مشهور سو. هغه د حساب یو کتاب هم په درې ژبه تألیف کړی دی (جنبش مشروطه خواهی در افغانستان ۲۶۶ ـ ۲۶۷ مخونه).

کاکا سید احمد صریحه او رښتیا ویونکي لهجه لرله. د اماني دورې تر اواسطو پوری د خلکو او دربار په وړاندی ډېر محترم و، او په اکثرو علمی او ادبی محافلو کی به یې ګډون درلود او مشورې به ځنی اخیستل کېدې.

مولوي محمد حسین هندوستانی وایی چی «ما د امان الله خان په وخت کی دا پیښی بیان کړې، نو اعلیحضرت دئ ور وغوښت او داسی ټنبلان او پخ ذهنه انسانان یې ور وسپارل چی پخپله دئ هم په پوهېدئ چی دا خلک هیڅ تعلیم نسي اخیستلای. خو یوه میاشت وروسته هغوی د حیرانی وړ امتحان ورکړ چی په بدله کی یې سید احمد خان ته د هغه یو لک روپیو جایداد بیرته ورکړ چی د امیر عبدالرحمن خان له وخته ضبط و او په ښوونځیو کی یې د لومړنیو ټولګیو تعلیم هم دده شاګردانو ته وسپارئ. بیا یې په پوځ او پولیسو کی د هغه ترویج راپیل کړ.

په دې ټولو چارو کی د معارف وزیر سردار محمد سلیمان خان په ښو ولولو سره کومک وکړ. وروسته دا نوې قاعده په ټول افغانستان کی خپره سوه.... لنډه دا چی د سید احمد خان نوم په ټول هیواد کی مشهور سو...

ده به خپلی مځکی خرڅولې او په پیسو به یې د معلمانو سره مرسته کول، زده کونکو ته به یې انعامونه ورکول او په دې ډول په ټول ولس کی د ده قاعده تکثیر سوه...

د اروپا، ترکیې او بخارا څخه د ښوونی روزنی یو نوی ږغیز سیستم (فوني ټیک سیسټم) کابل ته وارد سو او ما هغه په یو مکتب کی شروع کړ. خو سید احمد خان د هغه ښه مطالب هم په خپله قاعده کی شامل کړل بلکی هغه یې اصلاح هم کړل.

وروسته د سید احمد خان د ښوونی دغه طرز اردو ژبی ته هم د «نادر قاعده» په نوم ترجمه او خپور سو (انقلاب افغانستان ۹۵ ـ ۹۶ ـ ۹۷ مخونه).

خو سید مسعود پوهنیار بیا وایی چی د کاکا دغه طرز د ښوونځی د ماشومانو له پاره یو څه ثِقلت درلود، نو کله چی میر صاحب [میر سید قاسم] د معارف په وزارت کی د مستشار په حیث دنده لرله داسی صوتي اصول یې تهیه کړل چی له مخي یې معلم د الفبا د هر توري د ږغ په افاده کولو سره هغه شاګردانو ته ورزده کاوه. دا طرز چی د اعلیحضرت امان الله خان خوښ سو، نو په معارف کی یې رواج کړ. او پخپله پاچا هم کله کله عسکري مکتب ته ورتې او هلته یې عسکري شاګردانو ته همدا درس کاوه چی په «صوتِ غازی» سره مشهور سو. نو هغه و چی د کاکا سید احمد خان زوی مرحوم عبدالرحمن خان لودین یوه ورځ په خصوصی ډول پر میر صاحب باندی ګیله آمیزه انتقاد وکړ چی تاسو صرف د امان الله خان د خوشحالولو په خاطر د غازي نوی طرز ایجاد او د کاکا طرز مو لغوه کړ (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد ۱۴۶ ـ ۱۴۷ مخونه).

په هر صورت، د کاکا په طرز کی د الفبا د تدریس اساس د حروفو پر آواز باندی تکیه و. برعکس په بغدادي قاعده کی شاګرد د الفبا تدریس نسو حفظ کولای بلکی علی الفور د «آب» ، «آخ» او «آرد» ساده کلمي تدریس کېدې. د ده د طرز تدریس د امان الله خان تر عصر وروسته د «غازي په اصولو» سره شهرت وموند، او مولوي عبدالباقی خان او امیر افغان د هغه صلاحیت لرونکي معلمان وو. نن د یونس سواد زده کولو اصول پر همدې ږغیز طرز باندی په تکیه سره پراختیا میندلې ده (جنبش مشروطه خواهی در افغانستان ۲۶۷ مخ).

پوهاند سید سعدالدین هاشمی وایی چی ما د کاکا سید احمد خان لودین د زوم محمد حسن خان ولدِ تاج محمد خان بلوڅ پغماني سره مصاحبه کړې او هغه د کاکا له خولي راته وویل چی د ټولو مشروطه غوښتونکو شمیر تر نهه سوو (۹۰۰) هم زیات و. ډیرئ د هغوی قومي کسان، د نفوذ خاوندان او د وسلو لرونکي وو. هغوی شفاهي موافقه کړې وه لاکن نومونه یې په لیست کی نه وو. د کاکا له قوله اول ځل یو تعداد منورو افغانانو د ګوند د جوړولو په هکله خپل منځي موافقه وکړه. د دې تر څنګ ځینو غړو داسی وېتېیله چی یو څو هندوستاني مستخدمین دې هم دغه جمعیت ته راشامل کړل سی تر څو په دې ډول نور غړي هم راجلب کړو. نو هغه و چی ډاکټر عبدالغنی خان او یو شمیر نور هندوستانیان د جمعیت غړي سول. همدا راز د ده د زوم له قوله کاکا ویل چی د ګوند د جوړښت د هماغه لومړني پړاوه کوښښ کېدئ چی د خلکو هر ګروپ یعنی ملکی او نظامی پرسونل، روحانیون او کسب کاران د هغه غړیتوب حاصل کړی. دا ځکه چی دغسی کار د ګوند د ټینګښت، پیاوړتیا او پایښت باعث کیږی (جنبش مشروطه خواهی ۲۶۶ مخ).

يو ځل بيا پوهاند هاشمي: کاکا سيد احمد خان چې د خپل ژوند ۳۲ کلونه په زندان کی تير کړي وو، يو عالم او فاضل شخص، د رښتيانيو هيواد پالوڅخه و او په هيواد کی يې اصلاحات غوښتل. لکه څنګه چې ويل کيدل چې کله اعليحضرت امان الله خان پکتيا ته تللی و، نو د يو ليک په ذريعه يې د امان الله خان پر تګلارو انتقاد وکړ او د يو مکتوب په ترڅ کی يې ورته ليکلي وو چې په هيواد کی د کوچني مامور څخه نيولي تر پاچا پوری ټوله بارکزيان دي، د دې قوم بازی څخه خطرونه احساسيږی داسی نه چې پاچهي سقوط وکړی. اعليحضرت امان الله خان کابل ته په راستنيدو سره د کاکا دا انتقاد معقول وباله او د اوضاع د اصلاح کولو وعده يې ورکړه.

همدا راز د کاکا له خولې هغه څو واره خپلو ملګرو ته ويلی وو چې «کوم ډول حکومتي طرز چې موږ او تاسی غوښت ونسو، نو راځی چې جمهوري حکومت رامخته کړو» (جنبش مشروطه خواهی ۲۶۷ مخ).

کاکا باالاخره د ۱۳۰۶ شمسی کال د يکشنبې په ورځ چې د حوت ۱۴ نېټه وه (۱۹۲۷ ميلادی)، د کابل د توپچي باغ د کوڅې په خپل کور کی د ۷۲ کالو په عمر وفات سو او د شهدای صالحين د هديرې د محمد رفيق خان لودين په حضيره کی ښخ سو (جنبش مشروطيت در افغانستان ۳۵ مخ).

عبدالرحمن خان لودين (چې په کبريت يعنی اورلګيت سره مشهور دی) او د مشروطه خواهانو د دوهمی ډلی فعال او تندخويه غړی و، د همدې کاکا سيد احمد خان زوی دی. تر دې چې نوموړي په ۱۹۱۸ کی پر امير حبيب الله خان د توفنګچې ټکان وکړل خو هغه بچ سو. الله دې پلار او زوی د ټولو مسلمانانو په شمول مرحوم او مغفور ولری ـ آمين، والسلام (ن. صمد).

اړونده مأخذونه :

۱ ـ جنبش مشروطيت در افغانستان ، پوهاند عبدالحی حبيبی ، کابل ، ۱۳۶۳ شمسی.

۲ ـ ظهور مشروطيت و قربانيان استبداد در افغانستان ، سيد مسعود پوهنيار، سبا کتابخانه، پشاور، ۱۳۷۵ شمسی.

۳ ـ جنبش مشروطه خواهی در افغانستان، پوهاند سيد سعدالدين هاشمی، شورای فرهنګی افغانستان، ستاکهولم، سويدن، ۱۳۸۰ شمسی (۲۰۰۱ ميلادی).

۴ ـ از جنبش مشروطه تا دولت مشروطه در افغانستان، دوکتور اجرالدين حشمت؛ ناشر: مؤلف؛ ويتبی، کانادا، ۱۳۸۶ شمسی (۲۰۰۷ ميلادی).

۵ ـ انقلاب افغانستان، محمد حسين خان، جالندر، هندوستان، ۱۹۳۰ (په اردو ژبه).

۶ ـ افغانستان در مسير تاريخ، مير غلام محمد غبار، مطبعه دولتی، کابل، ۱۳۶۴ شمسی (۱۹۶۷ ميلادی).

۷ ـ د افغانستان تاريخی پېښليک، پوهاند عبدالحی حبيبی، بيهقی مطبعه، کابل، ۱۳۵۳ لمريز.

۸ ـ افغانستان در پنج قرن اخير، مير محمد صديق فرهنګ، انتشارات درخشش، مشهد، ۱۳۷۱ شمسی.